**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي تېوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په تاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امات**

**ستره محکمه**

**د درالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو امریت**

**د متحدالمالونو څانګه**

د متحدالمال ګڼه: ۱٦

نیټه ۱۴۴۴/۰۲/۰۷ هـ ق عاجل عادی اطمنانیه ابلاغیه نور

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، د مرافعې او ابتدائیه محکمو د ریاستونو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: په ۱۴۴۴/۱/۵ هـ.ق برابر له ۱۴۰۱/۵/۱۲ هـ ش سره د سترې محکمې عالي شورا ناسته د سترې محکمې د محترم رئیس صاحب الشیخ عبدالحکیم الحقاني په مشرۍ ترسره شوه چې د عالي شورا غړو، د مرکزي دیوانونو محترمو رئیسانو او د سترې محکمې د مرکزي قضایي ریاستونو محترمو رئیسانو په کې ګډون کړی و او د ۱۴۴۴/۱/۵نیټې د (۳) شمېرې تصویب له مخې د ځینې موضوعاتو په اړه فیصلې ترسره شوې؛ ترڅو د اسلامي امارت له محترم مقام سره شریکې شي. په همدې اساس د یادې شوې ناستې موضوعات د اسلامي امارت له محترم مقام سره شریکې شوې چې پنځمه موضوع یې په لاندې ډول وه:

(( د تېرې اداري مسئولینو لخوا خلکو ته امارتي ځمکې، څړځایونو او نورې مواتی ځمکې ویشل شوې چې د خلکو له لورې په کې تصرف شوی دی، دا ډول موضوعات چې محکمې ته راجع کیږي، محکمې په دې اړه څه ډول اجراأت ترسره کړي؟))

د افغانستان اسلامي امارت محترم مقام د یادې پنځمې فیصلې په اړه داسې هدیت ورکړ: (( دا موضوع دارالافتاء محترم ریاست ته لیږل شوې، هر کله چې موږ ته را ورسیده، سترې محکمې ته به ولیږل شي، البته ستره محکمه دې هم په دې موضوع کې د دارالافتاء له محترم ریاست څخه استفتاء وکړي.

وروسته له هغې چې په یاده موضوع کې د دواړو فتواوو صدور او توحید ترسره شو، د اسلامي امارت محترم مقام به هدایت ورکړي.))

په همدې اساس د یادې شوې ناستې د پنځمې موضوع په اړه د افغانستان اسلامي امارت د محترم مقام فیصله ددې محتدالمال په ذریعه د افغانستان ا سلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعو او لومړنیو محکمو محترمو ریاستونو ته مخکې له مخکې اخبار کړل شوه.

**په احترام**

**مفي عبدالرشید سعید**

**د سترې محکمې د دارالانشاء رئیس**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.